مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر

۲۰۲۱/۰۲/۱۴

# د یو لوی انسان یاد

په هغه ورځ مې لا له سهاره خوا شنه وه، لکه دسړي چې هېونه خبر وي چې له یوه لوی غمه به خبرېږي، پخپل کارنه پوهیدم،هسې مې دکمپیوټر تنی کیکښلې، په ازادي راډیوکې مې خپلې یودوه خپروني واوریدلي خو ایډېټ مې نه کړې .

له غرمې وروسته د انګلیسي کورس ته ولاړو د کورس په نیمایي کې اجمل تورمان راغی په دروازه کې یې په ډک ستوني زما نوم واخیست، ماکتابونه سره راټول کړل له چوکی راپورته شوم په دې وخت کې خالد نویسا راغی او ادا د لوی ویر خبر یې راکړ، استادرشادوفات شوی دی، جنازه یې په چهارصد بسترروغتون کې ده .

خدای خبر چې زما حالت به څنګه شوی وي، بیرته مې ایله ځان چوکی ته ورساوه، پخپل ځای کې کیناستم د ژړاڅیدو توان مې په ځان کې نه لید، دانګلیسي ژبې استاد مجاهد جواد د ډاډیني خبرې وکړې خو ما سمې وانه وریدې، چې دفتر ته راغلم د تورمان صاحب سترګې له اوښکو ډکې وې ، استاد اسدالله غضنفرپر میز ځو پاڼي کاغذونه چې د علامه استاد پوهاند رشاد د مړیني په خبر یې توري کړې وې پرتې وې، دغه دردونکي خبر د غضنفر روان قلم چې په څو دقیقو کې به یې علمي مقاله پرې لیکله هم درولی و. څه عادي خبر خو نه و، نن یو غر رانړیدلی و، نن لمر تپ شوی و، نن هغه زړه دریدلی و، چې دافغان او افغانستان له غمه یوه شیبه هم بې غمه نه و، پاتي شوی، نن هغه ځوک زموږ له منځه تللی و، چې لوړ سر یې بې له خدایه هیچا ته ټیټ نه شو، نن هغه قلم دریدلی و، چې ټول عمر په خوږه پښتو چلیدلی و، نن زموږ د پوښتنو ځواب فنا شوی و، نن د افغاني د ادب  د آسمان ځلانده ستوری را پریوتی و .

ژر مو ځانونه چارصد بستر روغتون ته ورسول ، نور لیکوال او شاعران په ژړاندو سترګو ولاړ ول، حافظ صاحب خو به هر شاعر او ادیب ته په غاړه کې لویده او په چیغو چیغو یې ژړل .

د علامه استاد رشاد د مینه والو او د افغانستان د خلکو له خوا استاد ته دوروستي درناوي لپاره دده جنازه دوه ورځې په روغتون کې کیښودل شوه، دپنجشنبې په ورځ استاد ته  د درناوي د وروستیومراسمو له سرته رسولو وروسته پریکړه وشوه چې جنازه سبا په څلورنیمي بجې د کندهار ولایت په خوا ولیږدول شي .

زه په هغه شپه سوچونو پسې واخیستم، دخپل وطن او خلکو په بد نصیب ژړیدم چې یو لوی غمخور یې له لاسه ورکړی و. نږدې تمامه شپه ویښ پاتې شوم، په هغه ساعت مې سترګې سره ورغلې وې چې عبدالهادي هادي او اولرحمن رودوال زما د کور دروازه ټکوله ددوی په وینا له بنه ځنډ وروسته ورووتم .

د جنازې له شا مو حرکت وکړ په شاجوی کې له استاد غضنفر، کاروان صاحب، محمد الیاس وحدت، صدیق الله بدر او بازمحمد عابد سره یوځای شوو، غرمه مهال کندهار ته ورسیدو. د کندهار ښار پر لویه دروازه لیکل شوي ول :
کندهار د علامه رشاد عظمت ته د احترام سر ټیټوي

د کندهار په لویه عید ګاه کې د استاد جنازه وشوه دا سیمه چې د کندهار پوهنتون هم همدلته دی د کندهارله ښار څخه په لږ لیرې واټن کې پرته ده، په هغه باراني ورځ په زرګونو کسان د استاد جنازې ته راغلي ول .

د ښکلي کندهار په خیره کې په هغه ورځ دوه نښې څرګندې وې یو هغه لوی ماتم، چې نه یوازې په کندهار بلکې په ټول وطن یې وزر غوړولی واو بل په عین ویر کې یو ډول ستر ویاړ و، چې تاریخي کندهار زموږ د پیړۍ لوی انسان ته پخپله غیږ کې ځای ورکاوه .

په سبا مو د خرقې مبارکې په جومات کې د استاد له فاتحې وروسته د کابل په لوري حرکت وکړ، په لاره موږ ټولو په هغو فرصتونو افسوس کاوه چې د علامه پوهاند اکاډیمیسن استاد رشاد په ژوند مو له لاسه ورکړي ول. ولې موهره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ورځ له استاد سره نه کتل، ولي مو د هغه عالمانه خبرې چي بيا به يي هيڅکله وانه ورو او نه به يي په کتابونو کي پيدا کړو ثبت نه کړې. ولي د هغه د کار او ژوند په باب فلمونه نه لرو؟او داسې نورې په لسګونو پوښتني .
استاد د هر ډول پوښتني ځواب درلود، که به چا د يوې موضوع يا د يوې سيمي د نوم د شاليد په اړه ترې پوښتنه وکړه په پوره حوصله به يي ځواب ورته وايه او ماخذونه به يي هم ټکي په ټکي ښودل. داستاد له ځواب وروسته دې ته اړتيا نه پيدا کيده چي سړى دې د هغې پوښتني د ځواب په باب په نورو ماخذونو پسې وګرځي .
استاد حيرانوونکي حافظه درلوده ، دکومي موضوع په اړه به يي د کتاب هغه فصل او مخ را ښود او بيا به يي چاته وويل چي دده په سترکتابتون کي په فلانی المارئ کي په فلاني ځاى کي دا کتاب ددغو کتابونو تر څنګ ايښى دى.
بيا به مو په هغه کتاب کي په ډېره اساني موضوع پيدا کړه . استاد پراخه حوصله لرله زما په ياد دي چي يوه ورځ زه استاد اسدآسمايي او محمد انور وفا سمندر د استاد کورته ورغلو تر نورو خبرو وروسته وفاسمندر د خپل ناول په باب ډېرې خبرې ورسره وکړې ، وېتييل شوه چي دا ناول به ټول وفا سمندر په راتلونکو ورځو کي استاد ته لولي ، راتلونکي دوه بشپړې ورځي مو استاد ته ناول ولوست ، ناول ډير ستونزمن او له سمبولونو ډک و، استاد په ډېره حوصله واوريد په پاى کي يي لازمي لارښووني وکړې .
کله به چي موږ د استاد ليدو ته ورغلو نو اول به يي ويل چي خپل شعرونه ورته واوروو. مابه چي استاد ته خپل شعر ولوست استاد به په پاى کي په شعر کي ځيني نيمګړتياوې را ته وښودلې، ما به يادداښت کړې خو زړه به مي نه منلي کله به چي کورته راغلم شعر به مي بيا ولوست او بيا به مي د استاد لارښووني وکتلې او د استاد له لارښوونو سره سم به مي بدلون پکي راوست، حيران به شوم چي استاد په دومره لږ وخت کي او په يوځل اوريدو سره څومره ټکو ته متوجه شوى و او څه پر ځاى لارښووني يي راته کړې دي .
استاد په هره برخه کي پراخ معلومات لرل ، د پوهنتونونو او نورو علمي او څيړنيزو موسيسو استادان اوڅيړونکي به چي کله له سختو موضوعګانو سره مخ شول نو يوازينى علمي مرجع علامه رشاد و چي له هغه څخه به يي د خپلو پوښتنو ځوابونه پيدا کول نه يوازې په هيواد کي بلکي په نړيوالو سميناورنو او علمي غونډوکي به د استاد له علمي څيړنو څخه ګټه اخيستل کيده ، ځکه خو ورته د نورو لقبونو ترڅنګ د ژوندئ اکاډمي لقب هم ورکړل شوى و .
۱۳۸۳/ ۹/ ۱۶


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ